مومند آخڑ

۲۰۱۷/۰۶/۱۱

د حمزه بابا، غني خان او محمدانور آخڑ تخيلي شعرونه او ورته والی

د حمزه بابا شعر:

راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې
راځه چې د وصال جوړه دنيا کړو په دنيا کې / د ګل په خاموشۍ او د بلبلو په نوا کې
پيدا چې د خندا نور افشاني کړو په ژړا کې / تر هغه ګورو يو بل ته چې ورک شو په يو بل کې

راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې
ډيوه د مشغولا شي زموږ بله چې ماښام شي / ماښام د ليلا لاس کې د شفق د ميو جام شي
بد ځان يې شي له پامه چې د ستورو په موږ پام شي / د مينې پټ پټانی وي د سترګو په زمبل کې

راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې
منت دپاره پېغلې پلوشې که د لمر راشي / جولۍ که غوړولې راته ګل په بستر راشي
هر څو که پرېشاني په لاس نسيم د سحر راشي / ستا سر دې وي زما او زما سر ستا په ځنګل کې

راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې
چې جوړ کړو د سپوږمۍ د پلوشو ځنی ټالونه / جوتې چې نرمې نرمې راله راکړي نکهتونه
اغوستی مو د ګل د رنګينۍ وي څادرونه / تر هغه وخته زانګو چې وخت ورک شي په زانګل کې

راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې
جذبې چې د پرېشانه غونډې مينې کړو راجمع / دوه شوي زړونه يو کړو ترې پيدا کړو يوه شمع
ساز واخلي پټنګان چې شي راټول د سوز په طمع / احساس چې فرق و نه کړای شي په سوال او سوزېدل کې

راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې
فضا د پسرلي چې ګل ورينه خندا کاندي / ستا موسکي موسکی شونډې چې ورېښمينه خندا کاندي
زلمی چې د ارمان سِحرجبينه خندا کاندي / پېری درته د شپې نايِنه ستوري په اوربل کې

راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې
راځه چې شو بهر د دغو شپو ورځو له جاله / پرواز په داسې حال وکړو چې ووځو له حاله
يو حال داسې پيدا کړو چې مو حال اوځي له خياله / بيا خيال يوه ګړی کړو د وصال په سلاسل کې

راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې
وتلی اسوېلی مو چې ورېځ هلته د نور وي / هجران شړلی اوښکې مو چې څاڅکي د سرور وي
برېښنا مو د ښايست د تبسم د زړه په طور وي / احساس چې شي د خود او بې خودۍ په جار وتل کې

راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې
جهان مو يو جهان وي د جهان د حس نه لرې / مکان مو يو مکان د لامکان د حس نه لرې
تل دواړه يو حمزه يو د وجدان د حس نه لرې / ازل ابد چې دواړه شي فنا زموږ په تل کې
راځه چې يوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ



(امیر حمزه شینواری)

*****

دمحمد انور آخر شعر

خیالي نړۍ

راځه چې سره ځو له دې دنیا نه بل جهان ته / ګزران مو دلته نه شي، ځه چې وخیږو اسمان ته

ګډېږي به نسیم زموږ راتلو ته وړاندې، وړاندې / ګلونه د ګلشن به په اتڼ شي لاندې باندې

غوټې به په خندا شي لکه ته چې راته خاندې / د مینې په وزرو به والوزو د نور جهان ته

ګزران مو دلته نه شي، ځه چې وخیږو اسمان ته

شبنم به لر او بر په ګلو ووهي ټوپونه / بلبلې د ګلزار به غږوي خواږه سازونه

اسمان کې به جوړ کړي وي هم زانګو اتڼونه / آباد به ښکلی بل جهان د مینې کړو خپل ځان ته

ګزران مو دلته نه شي، ځه چې وخیږو اسمان ته

ګلونه به له ځانه درته جوړ رنګین کالي کړي / له شنو پاڼو په زنه به دې جوړ شین خال خیالي کړي

په پښو کې به دې لویږي، یو تر بله به سیالي کړي / په ګلو کې به اوسو، ځه چې درومو ګلستان ته

ګزران مو دلته نه شي، ځه چې وخیږو اسمان ته

ماښام کې اوربلکي به کړي بلې هر خوا شمعې / سپوږمۍ به مو لیدو ته په سر راشي زموږ په طمعې

راجمع ښاپیرۍ به شي هر خوا زموږ په جمعې / راځه چې له تورتمه وخیږو رنګین کمان ته

ګزران مو دلته نه شي، ځه چې وخیږو اسمان ته

د شپې به ستورې بل کړي، زموږ پر سر سپین مشالونه / وریږي به، په موږ باندې د ستورو بارانونه

له ستورو نه به جوړ کړمه ستا غاړې ته هارونه / ته شې به په اسمان بله سپوږمۍ، د سپوږمۍ شان ته

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ګزران مو دلته نه شي، ځه چې وخېږو اسمان ته

ماښام به په تور شال کې د شپې دواړه سره پټ شو/ پالنګ کې به د ګلو غېږ په غېږه لټ په لټ شو

ویده به په نازونو سره ښکلیه مټ په مټ شو / راځه چې تکل وکړو وبه رسو خپل ارمان ته

ګزران مو دلته نه شي، ځه چې وخېږو اسمان ته

(محمدانور آخېر)

***

دغني خان شعر

زما محل

دسیند دسپینو شګو نه مې جوړ کړو یو محل / دې ټول خرګې جهان ورته حیران حیران کتل

قالین مې په کې خور کړ دسرو پاڼو دګلاب / اوچت یې دیوالونه دسازونو د رباب

بیا رنګ مې ورله ورکړ دخوبونو دشباب / هر ګل مې ورله راوستو مالیار مې کړ بلبل

دې ټول خرګې جهان ورته حیران حیران کتل

نرګس مې په غېږ راوړ هم میلمه مې کړ رامبیل/ دڅاڅکو د شبنم نه مې ښایسته جوړ کړ امیل

نسیم په خندا راوړل زیړ ګلونه دچامبیل / شراب مې ورله راوړل بیا داوښکو دبلبل

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دې ټول خرګې جهان ورته حیران حیران کتل

رڼا مې د سپوږمۍ کړه د زهرا پستې غزلې / خندا ته د تمځرو ښکلې زرکې ګډیدلې

دستورو مستې سترګې غلې غلې رپیدلې / رورو پرې مستې راغله خدایې اور یې کړلو بل

دې ټول خرګې جهان ورته حیران حیران کتل

یوازې زه بادشاه ومه په سرمې تاج دغم / په خواکې مې دلبره وه موسکۍ سترګې پر نم

په غاړه یې امیل ښایسته د څاڅکو د شبنم / ماشومه نازنینه پاکه ښکلې لکه ګل

دې ټول خرګې جهان ورته حیران حیران کتل

پای



(خان غني خان د فخر افغان زوی)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ